ژباړن: ابراهیم نعیمی نیټه ۲۰۱۰-۱۲-۱۲

# دویکی لیکس دوبیپانی په اړوند

Politiken, Onsdag d.۱,۱۲,۲۰۱۰

د WikiLeaks دوبیپانی په اړوند چی نړیواله هنګامه یی جوړی کړی ده. غواړم تاسوګرانولوستونکولپاره دیورتنی ډنمارکی ورځپانی یومضون وژباړم چی دهغه کس په اړوندمعلومات وړاندی کوم چی دغی پانی ته یی دغه ډیرپټ معلوماتونه په واک کی ورکړی دی.

یوکوچنی سرتیری دتاریخی معلوماتونودرسواکولوترشاولاړدی
۲۲ کلن سرتیری Bradley Manning هغه څوک ګڼل شویدی چی په زرونو پټ اسنادیی پورته ذکرشوی ویبپانی ته ورکړی دی.
دنوموړی سرتیری په اړوندلنډمعلومات
دزیږیدنی ځای: ۱۹۸۷ز کال امریکا
دلویدلوځای: Oklahoma سرتیری اود امریکایی په فوځ کی دځارداداری څیرونکی. بغدادته ددندی لپاره ولیږل شو.
زندانی کیدل: می / ۲۰۱۰ زکال، نوموړی دزرونوپټواسنادوپه ورکولو دویلیکس ویبپانی ته، متهم دی.

یوه ورځ نوموړی ۲۲ کلن سرتیری دمی دمیاشتی په ۲۱ مه نیټه دچټ ایمیل کولوپه وخت کی دکمپیوترډیوغله[1] Adrian Lamo څخه داسی وپوښتل: څه به وکړی؟ که ته په اونی کی اوه ورځی دورځی ۱۸ ساعته داتومیاشتوپه درشل کی پټواسنادوته لاس رسی ونلری، داایمیل نوموړی ولوستی اوپه دغه ډول ددوی ترمنځ داسنادودورکولوچاره پیل شوه چی څوورځی یی دوام وکړی.
نوموړی ځوان سرتیری دیورته پوښتنی ځواب خپله وموندی چی نوموړی څو ورځی وروسته بیان کړه چی په ډیره اسانی سره یی دبهرنیوخدمتونودکمپیوترڅخه پټ اسنادپه سی ډی کی کاپی کړه. دغه پټ اسنادیی بیله دی چی څوک شک ورباندی وکړی دځان سره بهرته راویستل.
ځوان سرتیری دکمپیوترغله ته ولیکل چی په ډیره اسانی سره می پټ رازونه لاسته راوړه. په ځواب کی کمپیوتری غله په علاقه داسی وپوښتل:
« په دی ډول تااسنادترلاسه کړه؟»
ولی ځوان سرتیری داسی ځواب ورکړی. «ممکن!»
« زه یوه سی ډی چی د Lady Gaga موزیک په کښی وی جوړه ومه وروسته موزیک ورڅخه لیری کړه اوپټ معلوماتونه واخله. هیڅوک به شک ونکړی او
هیڅ وخت به داسی ونه شی، زه به هیڅ وخت څه پټ نه کړم.»
۲۲ کلن سرتیری داسی بیان کوی چی ذکرشوی موزیک می دشپیلاق په کولوسره اوریدی اودامریکی زیات تاریخی پټ اسنادمی لیږدول.
سرتیری چی پرنوموړی کس یی بشپړباورپیداکړی، هغه ته وایی، داډیره ساده ده.
مقابل لوری بایددامعلوماتونه ترلاسه کړی نه وای نوځکه وارخطاشواوپه بیړه یی دامریکی اړوندوپولیسوته خبرورکړی. په همدی شیبه یی دایمیلونودتبادلی اسنادیی یو خبری سرویس ته دwried.com ورکړه. کوم چی هلته لوستل کیدای شی.
په دغه وجه ځوان سرتیری دمی په میاشت کی په کویټ کی زندان ته واچول شو.
ورځی وروسته دنن نیټی څخه دجولای په لومړی نیټه دویرجیناایالت زندان ته یووړل شوچی اوس هلته بایدوی.
سړی په بشپړباورنه پوهیږی چی ځوان سرتیری دایمیلونودتبادلی په وخت کی توله(۲۶۰۰۰۰) ډیپلوماتیک راپورونه ورکړی دی، رښتیادی که نه؟ ولی د امریکی پولیسFBI پردغه موضوع ډیرباوری دی چی ځوان سرتیری یی متهم کړی دی چی ډیرمهم پټ اسنادیی غیری مسول شخص ته په واک کی ورکړی دی.
په دغه موضوع کی دویکیلیکس پانه چی ځان د whistleblowerside پانه ګڼی.

[1] - Computerhacker


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په خپل چټ کی ځوان سرتيری ځوځله ويلی دی چی مادغه مواددويکيليکس دپانی جوړونکی(۳۹) کلن استراليايي Julian Assange پخوانی کمپيوتری غله ته ورکړی دی.
**يوازی سړی په بغدادکی**
داتوله ممکن وه، ځکه څیرونودسپتمبرتريولسمی ترهګری پيښی وروسته وښودل چی دپورته ترهګری بريداتکل له مخکی نه وکړی که معلوماتونه په ښه ډول تبادله شوی وای. په دغه خاطريولوی معلوماتی جال چی ډيراسناداوراپورونه په کښی ځای پرځای شوی وه، جوړشو. داجال د SIPRNet په نوم يادشوچی ډيرلوی ګروپ لوړرتبه چاروکو، ډيپلوماټانواوفوځيانودورننوتلولارورته درلوده. دوی ځان باوری کړی وه چی معلوماتونه په ازادډول په کښی راټول شی.
په دی ورځوکی چی دويکيليکس پاڼه لګياه ده چی ۲۵۱۲۸۷ پټ اسنادرسواکوی نوامريکايان دامنی چی ازادی ترېوی کچی زياته وه.
ولی ترهمداګړی نوموړی سرتيری متهم دی چی زيات پټ اسناديی ورتحويل کړی دی. مخکی په اسنادوکی دډيپلوماټيکومعلوماتودراپوروېډيوکوم چی په بغدادکی ځانګړی امريکايی چورلکه Apacheh پرعامووګړوډزی کوی، داپريل په مياشت کی يی عامه رسنيوته وښودله.
ځوان سرتيری که ګنهګاروګڼل شی، داسی خطره شته چی تر(۵۰) کاله زيات بند باندی محکوم شی. يوګروپ کسانوچی دنوموړی سرتيری لپاره يوه ملاتړی مرستندوی اتحاديه را منځته کړی ده، نظرلری چی نوموړی بايدپه پورته ډول زندانی نه شی. نوموړی اتحاديه دځوان سرتيری لپاره دمرستی په موخه پيسی راټولوی چی سرتيری لايق او قيمتی مدافع وکيل وټاکلای شی ترڅومحکمه يی عادلانه وی.
سره ددی چی اسنادبه موجودوی چی هغه ويډيوچی دچورلکی بمباردپه بغدادکی ښيی، نوموړی سرتيری به ويکيليکس ته ورکړی وی ولی سره ددی هم بايدسزا ورنکړه شی. دنوموړی مرستندوی ګروپ علاوه کوی: چی نوموړی يوجنايت رسواکړی دی، که نه داجنايت به دهميش لپاره دامريکايی فوځ له لوری پټ پاته شوی وای. عينی نظريه عام خلک لری چی بايدپه هغوواقعيتونوباندی وپوهيږی، کوم چی سرپوښ ورباندی اېښودل شوی دی. (۴۰) کاله مخکی دامريکی ستری محکمی دهغو(۷۰۰۰) پټوجنګی اسنادورسواکيدل دامريکی دجګړه ايزوجرايموپه اړوندپه ويټنام کی سالمه چاره وګڼل، کوم چی دپنتاګون اسنادوپه نامه يی يادول.
ځوان سرتيری په ۱۹۸۷زکال زيږيدلی دی اوداوکلوهماپه ايالت کی لوی شوی دی. نوموړی نری اوکوچنی ځوان دی، غيری مطمين وی اودخپل ټولګی د ملګروسره يی هم ستونزی درلودی، دټولګی ملګرودهمجنسبازه په نوم مسخری ورباندی کولی. دښوونځی ترپای ته رسيدووروسته يی مختلفی دندی درلودی چی په وروسته کی په اردوکی شامل اوبغدادته وليږدول شو، کوم چی دپټواسنادوځيرنه يی کوله. په دی دنده کی هم دنوموړی اړيکی دخپلوهمکارانوسره اسانه اوعادی نه وی اودکمپيوتری غله سره دده اړيکی دنوموړی دسخت ډارباعث وګرځيدله.
ځوان سرتيری په داسی حال کی چی سوچ کوی چی زه، ځوان، کمزوری اوکه احمق وم ، داسی بيان کوی: « زه نه پوهيږم چی دلته ناست يم اواعتراف کوم.... چی زه اوږده موده يوازی (په ايزوليشن) کی وم. زه غواړم چی يومهربانه ځوان واوسم اونورمال ژوند ولرم، مګردژوندپيښنوزه دی ته اړباسلم چی دژونديوبل طرزوټاکم چی ژوندی پاته شم. دابه هوښياره چاره وی چی وګورم څه پيښيږی، هيڅوک زمانه يادداشت نه اخلی. کله چی ځوان سرتيری پورته بيان ليکی بياهم سوچ کوی چی زه ځوان، کمزوری اواحمق يم.
په بغدادکی استوګنه ددی باعث شوی وه چی ځوان سرتيری سوچ نه کاوه چی ښه اوبدانسان شتون لری. ځوان سرتيری خپل دچټ ملګری ته وليکل: داويډيوچی د امريکايی چورلکوبمبارديی پرعامه وګړو ښيی، ما په دی عقيده باوری کوی چی داواقعيتونه دعامه خلکوغوږونوته ورسوم.
ماپردی باندی اونی اومياشتی فکرکړی وه ترمخه ددی چی دامعلوماتونه وليږدم.

پای

**نوټ:** بايدووايم چی دويکيليکس ويبپاڼی جوړونکی Julian Assange دسی شنبی په ورځ ۷ / ۱۲ / ۲۰۱۰ زکال په لندن کی ونيول شو.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ